# په سعودي عربستان کې د پښتنو فرهنګي - ادبي هڅې

...




څېړنیاره نازو کمال

په سعودي عربستان کې د پښتنو فرهنګي - ادبي هڅې
څېړنیاره نازو کمال

The Cultural and Literary efforts of Pashtons in Saudi Arabia

Junior Assistant Professor Nazoo Kamal

2022

ISBN 978-9936-661-46-2

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د بشري علومو معاونیت
د پښتو څېړنو بین المللي مرکز
د پښتنو قبایلو انستیتوت

# په سعودي عربستان کې د پښتنو فرهنګي- ادبي هڅې

لیکواله: څېړنیاره نازو کمال

**د کتاب پېژندنه**

**د کتاب نوم:** په سعودي عربستان کې د پښتنو فرهنګي-ادبي هڅې

**لیکواله:** څېړنیاره نازو کمال

**ایډیټور او مهتمم:** څېړنیاره بي بي شفیقه نوري

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د لیکلو کال:** ۱۳۹۷هـ.ش

**د چاپ کال:** ۱۴۴۴هـ. ق (۱۴۰۱هـ.ش)

**مطبعه:** لایف سټار

**ISBN:** 978-9936-661-46-2

د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي.

بسم الله الرحمن الرحیم

# لیکلړ

**سرلیک**

**مخکتنه**


د لارښود استاد نظر ........................................ أ

سریزه ........................................................... ۱


## لومړی څپرکی

### د موضوع شالید

## دویم څپرکی

### په سعودي عربستان کې د پښتنو د مېشتېدو څرنګوالی، تاریخي بهیر او لاملونو څېړل


الف) د سعودي عربستان لنډه پېژندنه .............................. ۷

ب) د پښتنو او عربو ترمنځ فرهنګي اړیکې ............................ ۸

ج) په سعودي عربستان کې د پښتنو د مېشتېدو تاریخي بهیر ............ ۱۳

د) په سعودي عربستان کې د پښتنو د مېشتېدو څرنګوالی او لاملونه ...... ۱۵


## درېیم څپرکی

### په سعودي عربستان کې د مېشتو پښتنو د فرهنګي او ادبي هڅو تاریخي بهیر څېړل


الف) د فرهنګي او ادبي ټولنو او بهیرونو معرفي کول او څېړل ............ ۱۹

ب- د ځینو نامتو لیکوالو او شاعرانو پېژندنه ............................ ۳٤

## څلورم څپرکی

## د فرهنګي او ادبي ټولنو له خوا او د دغو ټولنو په مرسته د چاپ شویو آثارو تحلیلي څېړنه

الف- منظوم آثار ............................................ ۵۱

ب- منثور آثار ............................................ ۱۲۸

پایله............................................................ ۱۵۳

وړاندیزونه.................................................... ۱۵۵

مأخذونه ...................................................... ۱۵۷

# د لارښود استاد نظر

د نړۍ هر ولس ځانته ژبه او فرهنګ لري، تر څو چې د هغوی فرهنګ او ژبه ژوندۍ وي، هغه ولس هم ژوندی ګڼل کېږي، که چېرې ولسونه دغه توکي و نه لري، نو دغه ولسونه خپل هويت له لاسه ورکوي، نو بناءً ويلای شو چې د ملي هويت او ملي شناخت او پېژندنې په ساتنه کې د مورنۍ او اصلي ژبې اهميت څومره دی؟ له همدې امله هر ولس د خپلې پېژندنې، تاريخي او فرهنګي هويت د ترلاسه کولو لپاره د خپلې ژبې، ادب او کلتور په ساتنه او بډاينه کې هلې ځلې کوي، چې دغه هلې ځلې تر ډېره د ولسونو له فکري بيدارۍ او لوړ شعور سره مستقيمه اړيکه لري، چې ځينې ولسونه په دې برخه کې پرمختللي او ځينې نور بيا وروسته پاتې دي. د پرمختللو ولسونو ژبه، ادب او فرهنګ بډايه وي او د هر ډول زماني او مکاني فشارونو او تحولاتو د زغم وس لري او ځينې بيا دا زغم نه لري او د نورو د فشارونو له امله له منځه ځي.

پښتانه چې په نړۍ کې د يو ژوندي قوم په نوم تر دې دمه راپاتې دي، تل يې له خپلې ژبې، ادب او فرهنګ سره خپله اړيکه پاللې ده، که دغه اړيکه په هېواد کې دننه وي او يا له هېواده بهر وي، خو د خپلې ژبې، ادب او کلتور د ترقۍ لپاره يې کار کړی دی او د دوی د کار پايله ده چې پښتو ادب ورځ په ورځ د خپلې پرمختيا په لور درومي.

د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو څېړنو بين المللي مرکز د خپل لرليدي پلان له مخې اغلې نازو کمال ته د خپلې نوماندۍ دورې د رفع کولو لپاره (په سعودي عربستان کې د پښتنو فرهنګي ـ ادبي هڅې) تر سرليک لاندې علمي څېړنيزه پروژه د څېړنې لپاره ورکړې وه او زه يې د لارښود استاد په توګه ټاکل شوی وم. ما د دې پروژې د ليکلو په جريان کې تل له اغلې نازو کمال سره خپلې علمي مشورې شريکې کړي او په هره برخه کې مې ورته رهنمايي کړې ده او

څېړونکې هم زما مشورې په هره برخه کې منلې او بالاخره یې خپله څېړنه بشپړه کړې چې زه یې په اړه خپل نظر داسې څرګندوم:
د یوې مبتدي لیکوالې په توګه د آغلې نازو کمال څېړنه او لیکنه تر ډېره د قدر وړ ده، هغې په ډېرو محدودو امکاناتو په سعودي عربستان کې د پښتنو د ادبي هلو ځلو په اړه خپله پروژه په ډېر لنډ تنګ وخت کې بشپړه کړې ده چې له دې څخه د څېړونکې د راتلونکو علمي کارونو په اړه روښانه اټکل کېدای شي.
لیکوالې د خپلې څېړنې ترتیب او تنظیم په سمه توګه کړی او له څېړنیزو معیارونو سره برابر دی، هغې د خپل منظور شوي اوټلاین مطابق خپله څېړنیزه موضوع تر بېلابېلو وړو او لویو سرلیکونو لاندې په ښه ترتیب اوډلې ده.
څېړنه یې د تحقیق له اصولو او معیارونو سره برابره او په ښه شان سرته رسولې ده. په لیکنه او څېړنه کې یې رواني او تسلسل پیاوړی دی، ژبه یې خوږه او د څېړنې له معیار سره سمه ده او د دې تر څنګ یې په لیکنه کې د تنقیط اصول هم په سمه توګه رعایت کړي دي.
زه دا څېړنیزه رساله (په سعودي عربستان کې د پښتنو فرهنګي ـ ادبي هڅې) چې لیکوالې یې په لیکنه او څېړنه کې ډېر زیار او زحمت ګاللی، په تول پوره او مثبته ارزیابي کوم او د نوماندې دورې د رفع کولو او د څېړنیار علمي رتبې ته د ترفیع لپاره یې کافي او پوره ګڼم او اړوندو مراجعو ته وړاندیز کوم چې نوموړې ته د څېړنیار علمي رتبه ورکړل شي. په پای کې لیکوالې ته په راتلونکي کې د ورته لا نورو علمي پرمختګونو هیله کوم.

په درنښت

څېړنوال دکتور عبدالظاهر شکیب

د افغانستان د علومو اکاډمي د ریاست سرپرست

او د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز علمي غړی

# سریزه

هره ژبه پر خپلو ویونکو آباده ده، د هرې ژبې ویونکي چې خپلې ژبې ته کار کوي، هغه به په نړۍ کې د راکړې ورکړې ژبه هم وي، خو کوم وګړي چې خپلې ژبې ته کار نه کوي، ژبه به یې ډېر ژر د هغو ژبو په کتار کې ودریږي چې یوازې یې نومونه پاتې دي، ځکه اوسمهال هم ډېرې ژبې د له منځه تللو له ګواښ سره مخامخ دي. دا اړینه نه ده چې یوازې دې په هغه جغرافیه کې یوې ژبې ته کار وشي چې په کې ویل کېږي، د یوې ژبې ویونکي چې په هر هېواد او ټولنه کې ژوند کوي، کولی شي خپلې ژبې ته کار وکړي. دا چې نن سبا مهاجرت د نړۍ یوه مهمه پدیده ده، وګړي د نړۍ هر هېواد ته تګ راتګ لري، نو پښتانه هم د نورو وګړو په څېر مسافرۍ ته مخه کوي او د نړۍ بېلابېلو هېوادونو ته مسافرېږي. ډېری پښتانه د هغه احساس له مخې چې د خپلې ژبې پر وړاندې یې لري، که په هر هېواد کې وي، یا هر ډول ژوند ولري بیا هم د خپلې ژبې لپاره کار کوي، دا کار یې یوازې تر دې محدود نه دی چې دوی تخلیقي ادبیات ایجادوي، بلکې دوی نور پښتانه سره راټولوي، ادبي غونډې جوړوي، کره کتنې کوي، د لیکوالانو او ادیبانو د هڅونې لپاره جایزې ورکوي، تر ټولو مهم یې دا چې کتابونه او مجلې چاپوي او په پردیو هېوادونو کې دا ډېر لوی خدمت دی چې پښتانه یې کوي او داسې به زموږ ژبه هم له سیالۍ شاته نه پاتې کېږي.

د هغو هېوادونو په لړ کې سعودي عربستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې په بېلابېلو وختونو کې د بېلابېلو دلایلو له امله افغانان په تېره بیا پښتانه هلته تللي او مېشت شوي دي. سعودي عربستان ته د پښتنو د ورتګ تر ټولو ښکاره او څرګند لامل اقتصادي ستونزې بلل کېږي. له کلونو کلونو راهیسې زرګونه پښتانه د کاروبار یا د مزدورۍ لپاره سعودي عربستان ته تللي چې دغه لړۍ لا پسې روانه ده او هغه کسان چې له خپلې مورنۍ ژبې سره بې ساري مینه لري، د لیکلو او شاعرۍ

استعداد هم ورسره مل وي، نو ناشوني به وي چې د خپلې مورنۍ ژبې خدمت او پرمختګ ته ملا و نه تړي.

په سعودي عربستان کې زيات پښتانه شاعران او ليکوالان د ژوند شپې او ورځې تېروي چې د مزدورۍ تر څنګ پښتو ژبې ته په خدمت کې هم له چا څخه شاته پاتې نه دي. دوی به ورځې په کار او مزدورۍ تېرولې، په رخصتۍ کې يا د شپې له خوا به يې بنداروونه کول او خپل شعرونه به يې يو بل ته اورول، همدا د دې لامل کېږي چې ورو ورو د ادبي ټولنو رامنځ ته کېدو، د کتابونو او مجلو چاپ ته لاره هواره کړي او خپل ادبي او فرهنګي فعاليتونو ته ان تر ننه دوام ورکړي چې د دغې موضوع په اړه هر اړخيزه څېړنه په کار وه، نو ماته (په سعودي عربستان کې د پښتنو فرهنګي ـ ادبي هڅې) موضوع د علومو اکاډمي د پښتو څېړنو د بين المللي مرکز له پلان سره سمه د څېړنې لپاره راوسپارل شوه.

دا داسې موضوع وه چې تر دې دمه هېڅا ځانګړې، سيستماتيکه او هر اړخيزه څېړنه نه وه پرې کړې، نو ما هم پر دغه موضوع باندې له خپل علمي مکلفيت او علمي پوهې سره سمه څېړنه وکړه. ښکاره خبره ده چې څېړنه پای نه لري، نو زما څېړنه به هم جامع او مانع نه وي، کېدای شي نيمګړتياوې ولري، خو بيا هم دا چې په دې موضوع تر اوسه چا څېړنه نه ده کړې، نو زما دغه کړی کار به تر ډېره د ژبې او ادب د مينه والو هغه پوښتنې ځواب کړي چې په سعودي عربستان کې پښتانه کله مېشت شوي؟ له عربو سره يې فرهنګي اړيکې څه وخت پيل شوې؟ څومره ادبي او فرهنګي ټولنې هلته فعاليتونه کوي؟ د دغو ادبي ټولنو له خوا چاپ شوي پښتو آثار د شکل او محتوا له مخې کومې ځانګړنې لري؟ او دا چې دوی تر کومه د پښتو ژبې په پرمختګ کې ونډه لرلې ده؟ دا ټولې هغه پوښتنې دي چې په دغه څېړنه کې تر ډېره حده ځواب شوي دي. نو په ټوليزه توګه ويلی شو چې افغانستان ته د اسلام د مقدس دين په راتګ زموږ او عربو مادي او معنوي اړيکې پيلېږي چې د همدغو اړيکو په لړ کې زيات شمېر پښتانه سعودي عربستان ته ځي؛

مېشتېږي، د ادبي او فرهنګي ټولنو بنسټ ږدي او د هغه ځای د قوانینو په رڼا کې خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي. یاده دې وي چې دا موضوع مې په څلورو څپرکو کې څېړلې ده چې د څېړنې له اصولو سره سم لومړی څپرکی د موضوع شالید دی، که څه هم د دې موضوع په اړه تر دې دمخه کوم ځانګړی کار نه دی شوی او نه تر اوسه کوم ځانګړی اثر پرې لیکل شوی، خو په دې څپرکي کې ما هغه څه معرفي کړي دي چې د موضوع په اړه په متفرق ډول بحثونه په کې شوي دي. په دویم څپرکي کې لومړی عمومي عنوان (په سعودي عربستان کې د پښتنو د مېشتېدو څرنګوالی، تاریخي بهیر او لاملونو څېړل) چې بیا ورپسې په دې عنوانونو کې لومړی د سعودي عربستان لنډه پېژندنه شوې، ورپسې د پښتنو او عربو فرهنګي اړیکې څېړل شوي، بیا په سعودي عربستان کې د پښتنو د مېشتېدو تاریخي بهیر روښانه شوی او د مېشتېدو لاملونه یې ښودل شوي دي. په درېیم څپرکي کې په یاد هېواد کې د مېشتو پښتنو د فرهنګي او ادبي هڅو تاریخي بهیر څېړل شوی دی چې هلته موجودې ادبي ټولنې او ادبي بهیرونه په منظم ډول په کې تشریح او معرفي شوي، همدارنګه د ځینو نورو لیکوالانو او شاعرانو پر پېژندنې سربېره د دوی د کلام بېلګې هم راوړل شوي دي. په څلورم یا وروستي څپرکي کې د پورته ادبي ټولنو او بهیرونو له خوا د رامنځ ته شوو او چاپ شویو آثارو تحلیلي څېړنه شوې ده چې لومړی یې منظوم او بیا منثور آثار تحلیل شوي دي. په پای کې د پښتو ادب او فرهنګ په وده کې د دغو ټولنو په ونډه خبرې شوي او ارزونه یې شوې ده. په وروستیو کې پایله، وړاندیزونه او د مأخذونو فهرست راوړل شوی دی. هېره دې نه وي چې د دې موضوع په څېړلو کې له تشریحي او تحلیلي میتود څخه او د اړتیا په صورت کې له انتقادي میتود څخه هم استفاده شوې ده.

په دې لاره کې تر ټولو دمخه له خپل لارښود استاد څېړنوال دکتور عبدالظاهر شکیب څخه د زړه له تله مننه کوم، چې په دې یو کلن مزل کې یې خپلې علمي

مشورې او هڅې له ما نه دي سپمولي، تر څنګ يې زما تېروتنې په ورين تندي راته اصلاح کړي او ګټورې لارې چارې يې راښودلي دي، همدارنګه په سعودي عربستان کې د مېشت ليکوال او شاعر خيام يوسفزي هم ډېره منندويه يم، چې په ډېر اخلاص يې د موادو د پيدا کولو په برخه کې ستره همکاري راسره کړې ده، تر دې وروسته له ټولو هغو همکارانو، استادانو او دوستانو مننه کوم چې خپلې مرستې يې له ما نه دي سپمولي.